# نړیوال اقتصاد

**استاد: عنایت الله ستانکزی**

# لومړی فصل
# تعروفی

# گمرکي تعرفي

ټول هیوادونه د اقتصادي ستونزو او اړتیاوو د ښه حل په موخه خپلو کې سوداګري تر سره کوي . ځیني هیوادونه د وارداتو مخ کې خنډونه رامنځته کوي تر څو داخلي تولیداتو ته د پرمختګ لاره هواره کړي ، او ځیني بیا د آزادې سوداګرۍ پلویان دي او د سوداګرۍ په وړاندې د رامنځته کېدونکو خنډونو د منځه وړلو غوښتنه کوي . د سوداګرۍ په وړاندې له بندیزونو څخه یو مهم بندیز د تعرفو وضع کول دي . په دی برخه کې د تعرفو په مفهوم ، ډولونو ، د وضع کولو اصولو او د تعرفو په اغیزو باندې رڼا اچول کېږي.

# مفهوم (Tariff)د تعرفي

**تعروفه یو قانوني سند دی چې د کمرك څخه تیریدونکو توکو باندې د مالیاتو د وضع کولو ډول او اندزه مشخصوي.** دا سند د هر هیواد لپاره د هغه هیواد د اقتصادي نظام او اقتصادي کچې مطابق ترتیبیږي او کوم واحد فارم نه لري ، گمرکي تعرفې په بیلو توکو باندی د وضع کېدونکو مالیاتو داندازی څرگندونکی لست دی . گمرکې مالیات عمومی توگه سره د وارداتو څخه تر لاسه کیږی . په صادراتو باندې هم ځیني وختونه تعرفي لگول کیږي . کله چې حکومت د صادراتو له خرڅلاو څخه د زیاتو عوایدو د لاسته راوړلو غوښتنه کوي ، او یا هم هیوادونو کي د واحد عرضه کوونکي په توگه د خپل توکې له کمبود څخه په گټه اخیستلو سره د گمرگ له لاري په صادراتو تعرفي وضع کوي . په ۱۹۳۰ کلونو کې د تعرفو له وضع کولو څخه هیوادونو د وزگارتیا د کمولو او عوایدو تر لاسه کولو په موخه کار اخیست . د(general agreement on tariff and trade)GATTسازمان رامنځته کیدلو سره د سوداگرۍ ازادولو او د گمرکي تعرفو کمولو لپاره هلي ځلي پیل شوي . نن ورځ د نړیوال سوداگریز سازمان WTO له خوا په دې برخه کې لازم تدبیرونه عملي کیږي ، او د تعرفو لوړول یو ستونزمن عمل دی .

# د تعرفو عمومي موخې

**د گمرک تعرفو د وضع کولو مهمي دوه موخي يو د خزاني لپاره د عوايدو برابرول دي ، او بل د کورنيو توليداتو څخه ملاتړ کول دي** . دا ماليات د هر هيواد د بودجي په عوايدو کې برخه لري ، خو د لږ پرمختللو هيوادونو بودجه کې يې ونډه زياته ده . د عوايدو په موخه تعرفي په عمومي توگه د خلکو له خوا زيات استعمالېدونکو توکو باندې وضع کيږي . په هغه توکو باندې تعرفي وضع کول چې تقاضا يې د ارتجاعيت لرونکي اوسي ، د توکې لگښت کې د کموالي لامل گرځي او د تعرفو عوايد کميږي ، په دې ترتيب د تعرفو وضع کولو کې بايد د توکو د تقاضا ارتجاعيت په نظر کې ونيول شي ، او د تعرفو لپاره داسي نرخ غوره شي چې د تعرفو له درکه عوايد لوړ حد ته ورسوي . د گمرک تعرفي له پخوا وختونو د عوايدو د تر لاسه کولو په موخه کارول شوي دي . د مرکنتاليستانو نظر پاتو د پراختيا سره د دې موخي لپاره په پراخه پيمانه کارول کېدلي . د ۱۹ سليزي وروسته د تعرفو د وضع کولو وړتيا بدلون وموند ، او د ملاتړ لپاره يو وسيله جوړه شوه ، د ملاتړ په نيت تعرفي د نړۍ نه د ارزانه توکو وارداتو باندې د داخلي توليداتو سره د قيمتونو د برابر والی يا لوړوالي په خاطر لگول کيږي . د گمرک تعرفي د وارد کيدونکو توکو قيمتونه په داخل کې لوړوي ، او د وارداتو عوضي توکو توليدونکو لپاره د سيالی څخه د ساتني کولو اغيز لري . په وارداتو باندې د داخلي او نړيوال قيمتونو تر منځ د توپير په اندازه او يا له هغي لوړو تعرفو په لگولو سره له وارداتو څخه مخنيوي کيږي او د نوموړي نوکي لپاره بشپړه ساتنه يقيني کيږي . د مالياتو دې کچې ته منع کوونکي ماليات " prohibitive tax " ويل کيږي. دې مالياتو سره مکمل ملاتړ رامنځته کيږي ، له دې څخه کم فرخ تعرفي په وضع کولو سره يو اندازه واردات صورت نيسي ، دي سره قسمي partial ملاتړ رامنځته کيږي.

# د ګمرکي تعرفو د وضع کولو اصول

(الف) خاصی تعرفی : د توکو په واحد او وزن په ځير فزيکي خصوصيتونو په اساس لګول کيږي . د مثال په توګه يو تويټا موټر په وارد‌ولو باندې ۱۰۰۰ دالر ، او د يو ټن ډبرو سکرو په وارد‌ولو باندې ۲۰ دالره ماليه وضع کيږي ( د خاصو ماليانو وضع کول او سنجول اسانه دي ، خو دا ماليات عدالت ته کتنه نه کوي ، ځکه چې د توکو کيفيت په مختلفو ارزښتونو کې نشي جلا کيدی . د کم کيفيت لرونکي وارداتي توکو او زيات کيفيت لرونکي توکو وارد‌ولو په صورت کې تل ورته ماليه ورکول کيږي . د خاصو تعرفو وضع کول کولی شي کم کيفيته توکي په قيمتي توکو بدل کړي . خاصي تعرفي د انفلاسيون په حالت کې د ارزښت په اساس تعرفو په ځير ملاتړ نه شي رامنځته کولی ، ځرنګه چې خاصه تعرفه د توکي په يو واحد باندې معلوم رقم په توګه وضع کيږي ، نو د لوړ قيمت په صورت کې د مالي کچه ټيټه اوسي.

(ب) دارزښت په اساس تعرفی

د توکو د ارزښت د یوې معلومي سلني په توګه لګول کیږی . د مثال په توګه د یو تویټا موټر واردوتو صورت کې د ت تویټا د قیمت ٪ ۱۰ مالیه وضع کیږي ، د انفلاسیون په حالت کې که قیمتونه لوړ شي ، نو په همهغه اندازه دا تعرفه هم لوړیږي ، په دې توګه د ارزښت په اساس تعرفو سره د ملاتړ په اندازه کې کموالی نه راځي . خاصي تعرفي په معیاري او د یو شان کیفیت لرونکو ( لکه کرنیز توکي او مواد ) توکو باندې لګول کیږي ، او د ارزښت په اساس تعرفي د جلا کیفیت لرونکو )صنعتي او نوي تکنالوژیکي ( توکو باندې لګول کیږي . د ارزښت په اساس تعرفي له مزیت تر څنګ ځیني ستونزې هم لري ، د دې تعرفو وضع کولو لپاره تر هر څه د مخه د توکي د قیمت معلومول اړین دي . د وارداتي توکو قیمت د تولید په فابریکه کې ، د خرڅلاو په محل کې او د سرحداتو ته د تیریدلو په وخت کې یو له بل څخه توپیر کوي . د ارزښت له مخی مالیی وضع کولو حالت کې د توکو د ارزښت معلومولو لپاره دوه طریقی کارول کیږی F.O.B. ( Free On ) : Boardصادرونکي بندر کې کشتي کې دبار شوی مال قیمت C.L.F. ) دواردونکي بندرکي قیمت چې د ( Cost , Insurance and Freight تمام شوی قیمت تر څنګ دانتقال او بیمی لګښتونه هم منعکسوي.

## (ج) مختلطي تعرفي

هغه دي چې په يو توکې باندي هم د واحد په اساس او هم د ارزښت په اساس باندې په يو وخت وضع کيږي . دا تعرفي د مربوطه صنعت څخه د ملاتړ لوړه درجه څرګندوي.

# د گمرکی مالیاتو اقتصادی اغیزی

په یو توکي باندې د لګول شوي ګمرکي محصول اغیزې په جزیې او کلي کچه ارزول کیږي . په جزیي څیړنه کې اغیزې د مربوطه صنعت ساحه کې نظر کې نیول کیږي ، او په کلي څیړنه کې په ټول اقتصاد باندې اغیزې څیړل کیږي.

## الف:جزیاتی تعادل طریقه partial equilibrium

د وارداتو تعرفي سره ملاتړ شوی صنعت په عمومي توګه هغه صنعت دی چې له بهر سره د سیالۍ توان نه لري . په یو توکي د تعرفي وضع کولو سره په داخلي بازار کې د هغه توکي قیمت لوړیږي . داخل کې د قیمت لوړیدل د کورنیو تولیداتو د زیاتوالې ، د مصرف کموالې او د ملي عوایدو سره اړینو صنعتونو کې مصروف تولیدونکو ته د بیا ویش سبب ګرځي . د دې تر څنګ تر هغه وخته چې تعرفه واردات صفر ته و نه رسوي ، نو دولت ته عواید هم تامینوي.




AAاو TT خطونه د اړین توکې د عرضي او تقاضا خطونه دي.

نړیوال آزاد قیمت OP1 , دی ، چې په دې قیمت سره دهیواد دننه لګښت OR سره برابر دی . د هیواد د لګښت د OK په اندازه د کورنې تولید په مرسته برابریږي ، او د KR په اندازه له بهر څخه واردیږي . که د توکي په وارد کیدونکې یو واحد باندې P , P2 په اندازه تعرفه ولږول شي ، نو د هیواد دننه قیمت OP ته لوړیږي ، په هیواد کې لګښت کې کموالی راځي او OU سره برابریږي ، کورنې تولید کې زیاتوالی راځي ، چې د OS اندازې ته رسیږي ، واردات تر MN ) = SU ) پوري کمیږي . لکه څرنگه چې له شکل څرگندیږي د وارداتو کموالې سره په لګښت کې د UR په اندازه کموالی راځي ، خو په کورنې تولید کې د KS په اندازه زیاتوالی راځي .

گمرکي مالیه پنځه بیلې اغیزې زیږوي:

1. په تولید اغیزې

گمرکي مالیات په داخل کې د واردائي توکو د قیمت په لوړولو سره د وارداتو تعویضي توکو تولیدونکو څخه و بهرنۍ سیالۍ ، په مقابل کې ملاتړ کوي ، دا د ملاتړ کولو اغیز هم نومول کیږي . دبهرنۍ سیالۍ په مقابل کې ملاتړ شوي تولید کې زیاتوالی راځي . د گراف له مخي له P1 څخه P2 ته د قیمت لوړولو سره په داخل کې د تولید اندازه له K څخه 5 ته زیاتیږي ، ځکه تولیدونکي په دې لوړ قیمت سره خپل لگښتونه پوښښ کولی شي . په عمومي توگه څومره چې د عرضي خط د ارتجاعیت لرونکی اوسي ، د قیمت په لوړیدلو سره تولید کې هغومره زیاتولی راځي.

۲ .په لگښت اغیزی

گمرکي تعرفي د وارداتو د قیمته کېدلو او د لگښت د کمېدلو اغیز رامنځته کولو سره په مجموع کې د مصرف کوونکو په رفاهیت کې کموالی راولي . د وارد کیدونکي توکي د تقاضا خط چې څومره د ارتجاعیت لرونکي اوسي ، په همهغه اندازه د قیمت توریدلو سره په لگښت کې کموالی راځي ، په گراف کې د b مثلث ساحه په مصرف کې کموالی څرگندوي ، چې دا د لگښت تولنیز ضایع consumption deadweight loss تشکیلوي.

ادامه.....

۳ .بهرنۍ سوداګرۍ باندې اغیز

د کورني تولید زیاتوالی او لګښت کې کموالی له بل لوري په وارداتو کې کموالی رامنځته کوي . په وارداتو کې کموالی د سوداګری د اغیز په نوم یادیږي . د ګراف له مخې د بهرنی سوداګری اغیز د KS + UR سره برابریږي.

۴ .عایداتی اغیزی

تر هغو چې د ګمرک تعرفې واردات له صفر سره برابر نه کړي ، نو خزانې ته یو اندازه عواید برابروي . د PIP2 اندازه تعرفو وضع کولو سره د وارداتو حجم د SU پوري کمیږي . د تعرفو مجموعي عواید د SU * P1P2 سره برابریږي ، دا د " مستطیل ساحه څرګندوي . په پرمختیایي هیوادونو کې د تعرفو د وضع کولو یوه موخه د بودجې لپاره د عوایدو برابرول دي .

5 . د ویش اغیزی

ګمرکي تعرفې له مصرف کوونکو څخه تولیدونکو ته د ملي عوایدو د بیرته ګرځیدو ) دوباره ویش ( لامل ګرځي . له مصرف کوونکو څخه تولیدونکو ته د عوایدو د ورګرزیدو ساحه په ګراف کې " d " ساحه څرګندوي . د کامل رقابت شرایطو لاندې د کم حاصل لرونکي شرکتونه هم د بازار د قیمت سره مطابق لګښت کوي . د ټیټې کچې موثریت سره کار کوونکی کمپنۍ د نهایي کمپنۍ marginal company په نوم یادیږي . نهایي موثریت سره کار کوونکي شرکتونه له خپل عادي ګټې څخه جلا خاصه ګټه تر لاسه کوي ، چې دې تخنیک ته د تولیدونکو مازاد نوم ورکړ شویدی.

# په مازاد ( فاضلیت ) باندې د تعرفواغیزې

تعرفواغیزې د رفاهیت په اندازه باندې د گمرکي تعرفو اغیزې د مصرف کوونکو او تولیدونکو د مازاد په مرسته اندازه کولای شو.

١. **دمصرف کوونکو فاضلیت : consumer surplus** د مصرف کوونکو د مازاد اصطلاح لمړي ځل لپاره د الفرد مارشال له خوا رامنځته شوه . د مصرف کوونکو مازاد ، د توکو د یو واحد مقابل کې لوړ قیمت چې مصرف کوونکې یې ادا کولوته حاضر دي او په بازار کې د عملا ادا شوي قیمت تر منځ توپیر څرگندوي . څومره چې د بازار قیمت د مصرف کوونکو له خوا منل شوي لوړ قیمت څخه کم اوسي ، په همهغه اندازه د مصرف کوونکو مازاد هم زیات اوسي . د تقاضا منحني څخه لاندې د بازار تر قیمت پوري ساحه د مصرف کوونکو د مازاد ښودنه کوي.

د لاندې ګراف د (الف) په برخه کې TT د تعرفه وضع کیدونکي توکي د تقاضا خط څرګندوي او P1 د نړیوال قیمت ښودنه کوي . دې حالت کې چې تعرفه نه ده وضع شوي نو د مصرف کوونکو مازاد P1FR سره برابرېږي . د تعرفي په وضع کولو سره چې داخل کې قیمت P2 , پورې لوړيږي ، دې سره د مصرف کوونکو مازاد P2FN سره برابرېږي.



# 2. دتولیدونکو مازاد ( فاضلیت )

د تولیدونکو مازاد د معلوم مقدار توکو له خرڅلاو څخه تر لاسه شوو عوایدو او دهغي د تولید لپاره د تولیدونکو له خوا تر سره شوو لګښتونو تر منځ مثبت توپیر څرګندوي. د ګراف له مخي د ازادي سوداګرۍ شرایطو کې د تولید اندازه OS0 سره برابره ده . د قیمت سره د خرڅلاو څخه عواید OP , LS0 سره برابر دي . د دې مقدار د تولید لپاره تر سره شوې لګښتونه OHLS0 سره برابریږي ، او د HPL ساحه د تولیدونکو مازاد څرګندوي . د ګمرکي تعرفي وضع کولو سره چې داخل کې قیمت , ۲ ته لوړیږي ، دې سره تولید له OK څخه تر OS1 زیاتیږي ، په P1 قیمت سره د خرڅلاو عواید OP2MS1سره برابریږي . د دې مقدار تولید لپاره د تولیدونکو له خوا شوي لګښتونه د OHMS1په اندازه دي ، له مجموعي عوایدو څخه د دې لګښتونو په لیري کولو سره د HPMاندازه د تولیدونکو د مازاد ښودنه کوي ، د ملاتړ شوي صنعت د اضافي لګښتونو دجبران کېدو له امله دصادراتي تولیداتو څخه سرچېنې د تولیداتو متبادل توکو د تولید ساحې ته جریان پیدا کوی.



۳ . په لوی اقتصاد اغیزې ( د عمومي توازن طریقه ) د تعرفي اغیزې په کلي کچه هم په جلا برخو کې احساسي کیږي.

( الف ) په ملي عوایدو أواستخدام کې زیاتوالي : د تعرفو په وضع کولو سره چې کورني تولید کې زیاتوالی راځي ، دې سره له بهرنیو توکو څخه تقاضا کورنیو توکو ته انتقال کیږي مجموعي تقاضا کې د بهرنیو توکو ځاي داخلي توکې نیسي ، ملاتړ شوي صنعت کې تولید زیاتیږي ، ورسره ملي عواید زیاتیږي ، او د وزګارو سرچېنو لپاره د کار زمینه برابریږي . دې سره د استخدام کچې لوړیږي او وزګارتیا کمیږي.

( ب ) د تادیاتو په بېلانس کې دکسر مخنیوی : د کلي اقتصاد په کچې د تعرفو اغیزو څخه یوه اغیزه د تادیاتو بیلانس کې څرګندیږي ، ګمرکي تعرفو سره واردات کمیږي ، هیواد ته د اسعارو په برخه کې صرفه جویې رامنځته کیږي ، چې د تادیاتو د کسر پوښښ کولو لپاره کارول کیږي . د تادیاتو بیلانس کسر د تعرفو په نتیجه کې د وارداتو د کمېدلو په اندازه پوښښ کیږي او داخلي ذخابرو کې سپما صورت نیسي.

(ج ) د بهرنی سوداگری په حدودو کې بدلون : ګمرکې تعرفي د سوداګری حدود د تعرفه لږونکي هیواد په ګټه بدلوي . د مقابل لوري د عمل په نظر کې نیولو سره باید د تعرفي وضع کوونکي هیواد لوی هیواد اوسي . د دې تر څنګ صادرونکي یا واردونکي هیواد کې د عرضې او تقاضا منحني د انعطاف متونکي اوسي.

( د ) دعوایدو په ویش کې دمعلومو ټولنیزو ګروپونو په ګټه بدلون رانګ د بهرنی سوداګری پالیسی بله موخه د شتمنو خلکو له خوا کاریدونکو لوکسو توکو باندې د لوړو تعرفو وضع کول دي تر څو عواید غریبو ته انتقال شي.

# دبهرنی سوداگری خاص رژیمونه (Special foreign Trade Regimes )

د گمرک نورمال رژیم سره مطابقت نه لرونکې مالونه دکمرکې خاص رژیم تابع گرځی . د گمرکونو ځانګړو رژیمونو کې ، لنډمهاله ( موقت ) واردات او صادرات ، وړیا حوزې ، گودامونه ، د ترانسپورت لیږدونه او د ساحل سوداگري شامليږي.

١ موقت واردات او موقت صادرات **Temporary imported and Temporary exported** هغه توکي چې څه موده وروسته له هیواد څخه بیرته د وتلو په شرط ورته د داخل کېدو اجازه ورکړ شوي وي ، په موقت وارداتو کې شمېرل کيږي.موقت وارداتو کې شامل توکو څخه مالیات نه اخیستل کيږي . د دې خلاف څه موده وروسته هیواد ته راستنیدونکې بهر ته استول شوي توکي موقت صادرات گڼل کيږي . موقت صادرات هم له مالیاتو څخه معاف دي . په دی ډول توکو کې ساختمانی کرایی وسایل ، نمایشگاه او نندارتونو کې ایښودونکې توکي ، د هنرمندانو او تیاتر لوبغاړو سامان آلات او نور شامليږي . د دوباره ادا کولو په سیستم کې هیواد ته داخلیدونکو موقتو وارداتو څخه مالیات اخستل کيږي ، خو دهیواد څخه د وتلو وخت کې دوباره ورکول کيږي .

2. خود مختاره ساحی ( منطقی ) ( Free Zones ) خود مختاره منطقي د هیواد په سیاسي سرحدونو کې شامل او د گمرک څخه بیرون او له فزیکي خنډونو جلا ساحه شمیرل کیږي ، چې خپله د سرحدونو لرونکي او د گمرک عام قوانین په کې نه تطبیق کیږی ، اویا تر یوې اندازې عملي کیږي . دا د قانون پواسطه معلومه شوی ساحه ده . گمرکي مالیات په دې ساحو کې یا مطلق نه وي او یا هم ډیر کمه اندازه اوسي . د خود مختاره علاقو اساسي موخه د هیواد صادراتو برخه کې د پانگې اچوونې او تولید زیاتول ، د بهرنۍ ، پانکې او تکنالوژۍ راتگ تشویق کول دي .

۳. گمرکې انگړ ( زیرمي ) warehousesهغه بنده ساحه ده چې د گمرکې مالیاتو د تادیاتو څخه د مخه د گمرک مقاماتو د کنترول لاندی د بهرنیو مالونو د ساتني لپاره کارول کیږي . د ساتني په موخه انگړ ته داخلیدونکو توکو باندې مالیات نه اخیستل کیږي . خو که توکې د د هیواد له خوا وارد شي نو د گمرک عادي سیتم پري عملي کیږي ، که انگړ په مستقیمه توگه د گمرک اداري له خوا مدیریت کیږي نو د حقیقي انگر , " Real warehouse "او که د خصوصي اشخاصو له خوا مدیریت کیږي نو " bonded warehouses " نومول کیږي . ازادې منطقي د بحري سوداگرۍ ، او انگرونه د وچې په سوداگرۍ کې د زیات اهمیت لرونکي دي.

۴. ترانزیتی انتقالات: له یو هیواد نه بل هېواد ته د توکو استول ، چې په لارکې د دریمګړي هېواد له سرحداتو څخه تیریږي ترانزیت انتقالات ګڼل کیږي ، نن ورځ د ترانزیتي انتقالاتو تګ آزاده دی ، خو پخوا زمانو کې د ترانزیت مال څخه هم د تعرفي اخیستل کېدلي. د ترانزیت انتقالاتو د څو اړخیزه تنظیم په موخه په ۱۹۵۹ کال کې د TIRتړون په جینوا کې لاسلیک شو . د دې د تړون له مخې ترانزت مالونه د دریمګړي هیواد څخه پرته دکوم مالیاتو او یا بل ډول لګښتونو څخه تیریږي . له خود مختاره منطقو څخه صادرات یو ډول ترانزیتي صادرات شمېرل کیږي . په دی توګه په یو هیواد کې له خودمختاره علاقو او ګمرکي زیرمو څخه هیواد ته کېدونکې واردات هم ترانزیتي سوداګرۍ کې شمیرل کیږي .

5 . د سرحد او ساحل سوداګری BORDER TRADE AND COASTAL TRADE

)د وچې او بحري سرحداتو لرونکو هیوادونو له خوا د یو خاص رژیم لاندې تر سره کېدونکي سوداګرۍ ډول دی . دې سوداګرۍ کې شرط د همسایه هیوادونو تر منځ د متقابلو موافقو ترتیب کول دي . اصلی موخه په جلا منطقو کې د اوسیدونکو د اړتیاوو رفع کول دي .

6. وړیا واردات Free importپه بهرنیو هیوادونو کې کار کوونکو او مسولیتو له خوا هیواد ته د پلور او سوداګرۍ لپاره نه ، بلکې خپلو اړتیاوو او په مسلک پوری اړینو وسایلو راوړل چې د مالیاتو څخه معاف اوسی وړیا واردات ګڼل کیږي .

# دوهم فصل
# د سوداګری پالیسی غیری تعروفوی وسایل

# 1.د مقدار محدودیتونه

د مقدار محدودیتونه له تعرفی پرته په غیری مستقیمه توګه د وارداتو حجم کی کموالی راوستونکی اقدامات دی.

د مقدار محدودیتونه لاندی دوه برخی لری:

1.د وارداتو سهمیه ټاکنه(import quotas)

2.د وارداتو بندول

# 1.د وارداتو سهمیه ټاکنه(import quotas)

د وارداتو سهمیه ټاکنه یا کوټا د حکمتونو له خوا واردونکو اموالو لپاره د حجم ،فزیکی مقدار او یا ارزښت په اساس د محدودیتونو لوړول دی.

د کوټا اقتصادی اغیزی

د کوټا اقتصادی اغیزی په لاندی ګراف کی ښه تشریح کیدای شی:



ادامه.............

Quotaلاندی اقتصادی اغیزی له ځان سره لری:

-وارداتو کی کموالی

-د داخلی تولید زیاتوالی

-په داخل کی د وارداتی توکو لپاره قیمت لوړوالی

2. د وارداتو بندول

په یو هیواد کی په وارداتی توکی په لاندی لاملونو سره بندیزونه لګول کیږی:

-د بهرنیو توکو په مقابل کی د کورنیو توکو کامل ملاتړ

-سپما رامنځته کول

-د اقتصاد لپاره د کم ارزښته او لوکسو مالونو باندی بندیز

-هیواد ته د غیری صحی او غیری اخلاقی توکو باندی بندیز

# ب.د تبادلی محدویتونه

د غیری تعروفوی بندیزنو ځینی وسایل د تبادلی نرخ پالیسو پوری اړی لری چی په لاندی ډول دی:

1.د تبادلی څوګونی نرخ multiple exchange rate

2.د اسعارو کنټرول

1.تبادلی څوګونی نرخ

څوګونی نرخ د جلا توکو او خدماتو د سوداګری لپاره د تبادلی د جلا نرخونو د کارولو سیستم ده.

2.د اسعارو کنټرول

د اسعارو کنترول له هیواد څخه د اسعارو وتل او راتلل محدودوی

# نوی ملاتړ new protection

د 1973 کال د انرژی د بحران وروسته د انفلاسیون او وزګارتیا یو ځای رامنځته کیدولو سره په صنعتی هیوادونو کی د ملاتړ او ساتنی موضوع مقبولیت پیدا کړ چی پکی لاندی برخی شاملی دی:

1. د صادراتو داوطلبانه کمول
2. روغتیا،خوندیتوب او چاپیریال معیارونه،اداری مقرارات او عامه تدارکاتو قوانین رامیځته کول
3. د صادراتو سبسایډی
4. د داخلی بازار سره اړیکه لرونکو صنایعو سره سبسایډی

# د صادراتو او وارداتو مالیات

الف.د وارداتو مجرایی مالیات

د وارداتو سره د سیالی کوولو په خاطر د محلی صنایعو څخه ملاتړ کولو یوه طریقه د توپیر جبران کوونکو مالیاتو عملی کول دی.دلته حکومت د ملاتړ سکتور تولیدونکو لپاره د لوړ داخلی قیمت ټاکی او بیا د واداتی توکو د ټیټ قیمت په مقابل کی سیالی لپاره مجرایی مالیاتو پالیسی عملی کوی او په وارداتی توکو لوړ مالیات ټاکی تر څو یی په داخل کی قیمت لوړی شی.

ب.د صادراتو مالیه export taxes

له صادراتی توکو نه په بیلو نومونو باندی اخیستونکی مالیه ده.د صادراتو مالیه په نړیوال بازار کی د کموالی رامنځته کیدلو او د صادراتی توکو د قیمت لوړیدلو اغیز لری.

ج.د داخلی ګډون ژمنی

ددی لپاره چی یو توکی په داخلی تولید کی وشمیرل شی د داخلی ګډون ژمنتیا لپاره حدود ټاکل کیږی چی د بهرنی توکو ونډه باید له معلوم او مشخص حد څخه زیاته نشی.

# انحصار او کارتیلونه

انحصار د رامنځته کیدو یوه موخه داده چی په لوړ قیمت توکی خرڅ شی او زیاته ګټه ترلاسه شی.خو ددی موضوع سره په څنګ کی د ډمپینګ موضوع ډیره مشابهت لری چی په لاندی ډول تشریح کیږی.

ډمپینګ

د صادراتي لویو شرکتونو له خوا په بهرنیو بازارونو کې د کورنیو بازارونو په پرتله ټیټ قیمت سره د توکو خرڅولو ته دمپنګ ویل کیږي . په دری ډولونو بیلیږي.

1. کله ناکله دمپنگ Occasional dumping کله چې په داخل کې د تقاضا کمبود ، د ترجیح او ذوق بدلون او یا نورو لاملونو نتیجه کې په پلور کې کموالی راشي ، نو په ذخیرو کې د توکو انبار زیاتیږي . په داسي حالتونو کې تولیدونکي د اضافه ذخیري د ختمولو په موخه په بهرنی بازار کې توکې په داسي بیه پلوري چې د متغیرو لګښتونو پوښښ وکړي .

ادامه.............

2. ویجاړونکی دمپنگ Destructive dumping احتکاری دمپنگ ځيني وختونو لوی شرکتونو له نړيوال بازار کې د سيالي کوونکو د ماتولو په موخه خپل توليدات په ټيټه بيه پلوري چې رقيبان يې د جبران توان نه لري . کله چې سيالي کوونکي له صحني بهر ، بيا قيمتونه زيات لوړوي ، چې دې ته د ویجاړونکي دمپنگ نوم ورکړ شويدی .

دوامداره دمينگ Continuous Damping دا نړيوال توپير لرونکی قيمت دی ، چې د انحصارگرو شرکتونو گټه لوړ حد ته رسوي ، دلته موخه د داخلي او بيروني کچې internal and external scales څخه په گټه اخيستلو سره د توليدد حجم زياتول او د لگښتونو کمول دي .

# نړيوال توپيرې قيمت او دمپنگ International Price Discrimination and Damping

صادراتي انحصارگر شرکتونه له هر څه د مخه په کورنيو او نړيوالو بازارونو کې د قيمت د معلومولو په اړه پريکړه کوي . دلته د دوه حالتونو د اتخاب خبره کيږي : اول دا چې د کورني او نړيوال بازار لپاره يو واحد قيمت ټاکل کيږي ، بل انتخاب دا چې هر بازار لپاره جلا قيمت ټاکل کيږي . د انحصارگرو له خوا د دوه بازارونو جلا کول او په هر بازار کې دجلا قيمت ټاکلو ته د نړيوال قيمت توپيرول international price differentiation ويل کيږي .

ادامه..............




Di تقاضا (متوسط عواید )

MRi نهایې عوایدو خطونه دي

د گراف چپ اړخ کې بهرني بازار کې Dd تقاضا (متوسط عواید

نهایی عوایدو خطونه دي MRd

نهایی لگښتونه MC ثابت فرض شوي چې د مستقیم خط په واسطه ښودل شوي دي

د بهرنۍ تقاضا خط ( Dd ) د داخلی تقاضا خط Di نه د زیات کشش درلودونکی دی

د دې شرایطو لاندې شرکت په هر بازار کې د نهایې لگښتونو او نهایې عوایدو برابریدلو سره لوړه گټه ترلاسه کوي . دا مساوات په داخلي بازار کې د M نقطه او په نړیوال بازار کې د N نقطه کې رامنځته کیږي Pi .
قیمت باندی داخلی بازار کې Omi په اندازه ، او په بهرني بازار کې په Pd قیمت سره د Omd په اندازه توکي پلورل کیږي .

# د دمپنګ خلاف دحکومت سیاستونه
# Government policies against dumping

حکومت دلوړ دمپنګ مقابل کې ضد دمپنګ عمل تر سره کوي ، او د جبران ګوونکو مالیاتو په مرسته عمل کوي . د دمپنګ ضد کړنلاره د GATT په قرارداد کې د بحث لاندې نیول شوي ، په واردونکي هیواد کې له نورمال قیمت normal priceڅخه په ټیټه بیه د توکو پلورل دمپنګ ګڼل کیږي . نورمال قیمت normal price د تولیدونکي له خوا کورني بازار ته د توکو د عرضه کولو قیمت دی .

# کارتیلونه Cartels

د ازادي سوداګرۍ د محدودولو بله طریق کارتیلونه دي، کارتیلونه د ورته توکو اوخدماتو تولیدونکو فرمونو له خوا د قیمت ټاکلو ، تولید محدودولو ، د بازار ویشلو او یا دنوې تکنالوژۍ د استعمالولو لپاره د حدودو د ټاکلو په اړه تړونونه دي .کارتیل لنډ مهاله تړونونهtemporary agreements . کارتیل ته د شرکتونو داخلیدل د استقلالیت له لاسه ورکولو په معنی نه دی ، د دې خصوصیت له مخي کارتیلونه له شرکتونو جلا کیږي.

# دریمه برخه

## نړیوالتوب او نړیواله سوداګري Liberalization and Global Trade

# نړیوالتوب او نړیواله سوداګري Liberalization and Global Trade

له دویم نړیوال جنګ نه وروسته په نړیواله سوداګری کې دوه جلا جریانونو پرمختګ وکړ

-یو د ازادۍ سوداګری منځته راتګ

-دوهم د اقتصاد نړیوالتوب

نړیوالتوب : په نړیواله کچه د سوداګری د ازادی لپاره فعالیتونو ته ورکړ شوی نوم دی ، خو یواځې اقتصادی مفهوم نه بلکې ټولنیز ، سیاسي او کلتوري ساحه هم په کې شامليږي .

د نړیوالتوب مفهوم

شو . له اقتصادي اړخه د نړیوال کیدلو درې اړخونه د پاملرنې وړ دي:

د سوداګری نړیوالتوب Commercial globalization

مالی نریوالتوب financial globalization

دتولید نریوالتوب globalization of production

# د نړیوالې سوداګرۍ سازمان ( World Trade Organization ) WTO

WTOچې د ۱۹۹۵ کال د جنورۍ په لومړۍ نېټه یې عملیات پیل شول رد یوروګوایې په ناستو کې جوړ شوی ، دا د GATT د تړون بدیل دي چې تر څو د لیبرالیزم هڅو ته دوام ورکړي GATT . د WTO رامنځته کولو لپاره قانوني اساس ګڼل کیږي . د نړیوالې سوداګری سازمان WTOد رامنځته کولو په اړه ۱۹۹۳ کال جنوری میاشتې په اوله نیټه موافقه وشوه . د پوروګوای مذاکراتو کې د طرفینو هیوادونو له خوا مذاکرات د دسامبر په ۱۵ نیټه مکمل شول او آخره پریکړه د وزیرانو له خوا د مراکش مرکز کې د اپریل په میاشت کې ۱۹۹۴ کال کې امضا شوه WTO . د قانوني اساس جوړولو سره د پانګې اچوونې زیاتوالي ، د صنعتي او کرنیزو توکو او خدماتو د سوداګری د نړیوال کولو نظر تر څنګ د ذهني ملکیت حق intellectual property rightsتامینوونکی او مشوره ورکوونکی سازمان دی .

د GATT توی تړون ته چې د پوروګوای غونډه کې تعدیل شو د GATT 94
نوم ورکړ شویدي ، د GATT 94 موافقي له مخې نور دا سازمان د
نړیوالې سوداګری سازمان نومول کیږي . د نړیوالې سوداګرۍ
سازمان د سوداګرۍ د نړیوالتوب په موخه ، د نړیوال بانک او د پیسو
نړیوال صندوق تر څنګ دریم سازمان په توګه رامنځته نو تول لویدیز
صنعتي هیوادونه د WTO غړي دي د نن ورځ د نړیوال سازمان د
غړیو هیوادونو ونډه په سوداګرۍ د دې لپاره چې د تړیوالې سوداګری
سازمان د سوداګرۍ نړیوال کولو موخې ته ورسیږي ، نو د متقابلو
ګنو او همبستګۍ د اصولو په رڼا کې د سوداګري په وړاندې د هر
ډول څنډونو د لیري کولو کوښښ کوي . کې له ۹۰ ٪ زبانه ده

د WTO سازمان موخې

سوداګرۍ په لار کې دخنډونو ، محدودیتونو او بندیزونو له منځه وړل .

په نړیواله سوداګرۍ کې اصولو او نظم باندې متکې ، شفاف او
دوړاندویني وړ سیستم برقرارول . په اغیزمنه توګه دسرچینو کارول

سوداګری آزادی او پراختیا

# د GATT جوړښت او فعالیتونه یې

نړیوال پیسو سیستم د نړۍ صنعتي تولیداتو ساحې سره د مرستې کولو او د سوداګرۍ د ازادولو لپاره ورته هڅې کړیدي . په دې لړ کې ۱۹۴۷ - ۱۹۴۸ کلونو کې په هوانا کې راټول شوو ۵۰ هیوادونو نمایندګانو د نړیوالي سوداګرۍ سازمان TO د را منځته کولو پریکړه وکړه ITO . سازمان د قانون اصلي موخه د سوداګرۍ په وړاندې د تعرفو او نورو خنډونو له منځه وړل او د سوداګرۍ ازادول وه د ا قانون له دي امله چې ، ګویا کورنیو اقتصادي پالیسیو کې د لاس وهني کیفیت لري ، د امریکا او ځیني نورو صنعتي هیوادونو د قانون جوړونکو ارګانو (پارلمانو )له خوا تصویب نه شو . اصلي دلیل د سیمه ایزو صنعتونو د استازو سیاسي فشارونه وه چې د لیبرالیزم څخه رنځ وړي . د لوبو هیوادونو له خوا د نه منلو له امله ITO ته د داخپلیدلو پروسه له ستونزو سره مخامخ شوه .

له بل لورې هیوادونو د سوداګرۍ د ازادولو سره زیانه علاقه ښودله . نو له دې امله ، د ITO د بورد خبرو اترو له بشپړېدو دمخه د ځینو ځانګړو توکو د تعرفو په کمولو موافقه وشوه . د ITO له خوا ملي پارلماتونو ته د منظورۍ په موخه د کمښت د پلي کولو یو عمومي تړون و استول شو . په دې ترتیب د ITO په ځای د ګمرک تعرفو او سوداګرۍ عمومي تړون General Agreement on Tariffs and Trade GATTد لنډ مهاله تړون په توګه رامنځته شو . لکه څرنګه چې نن WTO د GATT دوام ورکوونکي اداره ده ، همدارنګه GATT د ITOدوام ورکوونکي اداري په توګه رامنځته شوه ، GATT د تعرفو د لنډ مهاله تړون په توګه په ۱۹۴۸ کال کې فعالیت پیل کړ ، سره له دې چې نوموړي یو لنډ مهاله تړون وه خو دوامداره شکل یې وموند .

GATT مهمې موخې

د ازادي سوداګرۍ رامنځته کول

نړیواله سوداګري په اصولو او قوانینو عیارول او د خنډونو لیري کول

د یو ممکن او شفاف سوداګریز سیستم جوړول

د مقدار د کموالې په ځای د تعرفو په مرسته د ساتني تامینول

د تعرفو موقتي شکل او د وخت په تیریدلو سره په تعرفو کې کموالی راوستل

# د د اقتصاد د يوکولو ( ادغام ) نظريه theory of Integration of the economy

د اقتصاد نړيوالتوب او ادغام له سياسي اړخه مستقلو هيوادونو اقتصاد يو له بل سره تړي . کوم هيوادونه چې د اقتصادي يووالي پروسه کې شريک کيږي ، د توليد د ظرفيت لوړولو او د سرچينو د اغيزمنتوب زياتولو ښکارندوی کوي ، او په پايله کې د ټولنيزې هوساينې کچه لوړوي . د کورنيو بازارونو يو کول په صنعتي هيوادونو کې په توليد کې تيز زياتوالي راوستلو ، او د بازار حجم زياتولو کې مرسته کوي . د بازار پراختيا د سرچينو اغيزمنتوب زياتولو ، د تخنيک پرمختګ ، د کورني او بهرني اقتصاد مقياس څخه ګټه پورته کول تامينول او د and Free Trade Zonesنړيوالي سيالي زيانولو په څير ګټي لري

# د اقتصاد د یو کیدلو ډولونه

الف ) د ترجیحي سوداګرۍ موافقتنامي Preferential Trade Agreements دا د هر اړخیزه اقتصادي همکارۍ ښه نمونه ده . د دې له مخې غړي هیوادونه په یو شمېر معلومو توکو یوطرفه یا دوه طرفه تعرفو کې کموالی راولي .

ب) دازادي سوداګرۍ ساحي : free Trade Zonesپه دې ډول یووالي کې د غړو هیوادونو تر منځ ګمرکې تعرفي او مقداري محدودیتونه له منځه وړل کیږي ، خو د اتحاد نه بهر هیوادونو مقابل کې هر هیواد چلا تعرفي وضع کولی شي .

ج ) ګمرکی اتحادیي : Customs unionsدا د سوداګرۍ د ازادو منطقو په پرتله د پروالې پرمختللی شکل دی ، په دې توګه چې د غړو هیوادونو تر منځ ګمرکي تعرفي او مقداری محدودیتونه لیري کیږي ، او د اتحاد نه بیرون هیوادونو مقابل کې د ټولو غړو هېوادونو له خوا ؛ ، تعرفي لږول کیږي.

( د ) مشترک بازار   : Common Marketدا د گمرک اتحادیې څخه د اقتصادي يووالي پرمختللي شكل دي . د گمركې اتحاديې په څير د غړو هېوادونو تر منځ سوداگري آزاد شكل لري ، د اتحاد نه بهر هيوادونو مقابل كې واحد تعرفوي معيار كارول كيږي ، او په منطقه كې د خدماتو او پانگې په څير د توليد د لاملونو آزاد حركت هم تامينوی

ه) اقتصادي اتحاديه   : Economic Unionد اقتصادي يووالي يو پرمختللی حالت دی . د اقتصادي اتحاديې غړو هيوادونو له خوا د لوی اقتصاد پالیسی په ښودلو كې واک اتحاد ته انتقاليږي ، په دې توگه د گډ پولي او بانكي سيستم ، واحده مالي پاليسي ، او په كل كې د اقتصادي پاليسي ترتيبولو او عملي كولو لپاره د هيوادونو تامينوي راس كې د يو ارگان رامنځته كول اړين دي .

# دوهمه غوره تیورۍ Second Best Theory

د نړۍ هوساینې لوړې کچې ته رسولو لپاره کامل رقابت او ازاده سوداګري یوه ښه کړنلاره ده ، نو د دې اصل په نظر کې نیولو سره دا لمړنۍ ښه نظریه ګڼلی شو . د ازادې سیالۍ له فرضیو څخه لمړنۍ د عام لګښتونو – خصوصي لګښتونو ، او دعامه ګټې – خصوصي کتي ، تر منځ د توپیر نشتوالی دی . ( دا فرضیه اکثره د حقیقت سره مطابقت نه کوي ، ځکه چې په حقیقي ژوندانه کې دخصوصي انحصار شتون ، او د دولت مداخلي له امله د خصوصی او ملي لګښتونو او ګټې برابروالی ممکن نه دی . دلته د سالم رقابت د شرایطو د نشتوالي په صورت کې د سوداګرۍ ازادي ، په تولید او مصرف کې د ښه حالت د رامنځته کېدلو لامل نه ګرزي . په دې شرایطو کې د بندیزونو او محدودیتونو شتوالي د هیواد د هوساینې له نظره ګټور دی . په دې توګه د کامل رقابت او ازادي سوداګرۍ کړنلاره لمړني ښه کړنلاره ده ، او په بازار کې د شته ستونزو د حل په مخه د نوو تدبیرونو لکه نوي ګمرکي تعرفي دوهمه ښه کړنلاره ده .

# قطبي تيوري Polarization Theory

د پرمختیا مختلفو کچو کې قرارلرونکو هیوادونو داخلیدل یو اتحاد ته چې د هغوی تر منځ د توکو او عواملو د حرکت آزاد اوسې ، د آزاد بازار نظم د دوی تر منځ د پراختیا نابرابري زیاتوي . د دې حرکت په دوام سره دولتمند هیوادونه نور هم دولتمند کیږي اوفقیر هیوادونه نور هم فقیریږي . . ( د سویسیا اقتصاد پوه Gunnar Myrdalله خوا وړاندې شوي دا نظریه د قطبي کیدلو نظریې Polarization Theoryپه نوم یادیږي . ) ( د قطبي کیدلو نظریه Polarization Theoryیوازې د هیوادونو تر منځ د ازادې سوداګرۍ شرایطو کې نه بلکې د یو هیواد په مختلفو ساحو کې د پرمختګ په کچې کې توپیر سره هم څرګندیږي ، ډېرو هېوادونو کې د مختلفو ساحو تر منځ د پرمختګ په کچې کې توپیر شتون لري . د مثال په توګه د ترکې هیواد دشرقي او غربي ساحي او د ایتالیا د شمالي او جنوبي ساحي تر منځ توپیرونه شتون لرې.

# ځلورمه برخه

د بهرنیو اسعارو د تبادلې بازار foreign exchange market

# د بهرنیو اسعارو د تبادلی بازار foreign exchange market

د تبادلی بازار کی تر سره کیدونکی عملیاتو زیاته برخه په بهرنیو پیسو باندی د ملی پیسو بدلول تشکیلوی.

د بهرنی تبادلی بازار پروسس کونکی

1. بانکونه او غیری بانکی مالی اداری
2. دلالان او داوران
3. د بهرنی سوداګری او بهرنی پانګی اچوونی تر سره کوونکی اشخاص او شرکتونه
4. مرکزی بانکونه
5. صراقان
6. د انفلاسیون څخه حفاظت کوونکی

# د اسعارو عرضه او تقاضا

کله چی مشتریان د مختلفو موخو په خاطر له بانکونو او نورو مالی ادارو څخه بهرنی اسعار اخلی،د اسعارو دا خریداری د اسعارو لپاره تقاضا څرګندوی.د پانګی جریان د هیوادونو تر منځ د بهرنیو هیوادونو د قیمتی پاڼی او اسهامو پیریدل په بهر د قیمتی پاڼو او اسهامو پلورل ،بانکی امانتونو پلورل،بانکی امانتونو او د پیسو په بازار کی لنډ مهاله پانګه اچونه د بهرنیو پیسو د عرضی او تقاضا لاملونو کی شاملیږی.بهرنیو پیسو ته د تقاضا او عرضی حالتونه په لاندی ډول دی:

1. اسعارو ته د تقاضا حالتونه

-بهرنیو توکو او خدماتو ته تقاضا

-بهر کی پانګه اچونه

-ملی پیسو سره سپما له انفلاسیون څخه ساتل

-دلالی یا داوری عمل کول

2. اسعارو د عرضی حالتونه

-بهر کی د توکو او خدماتو پلورل

-په داخل کی بهرنی پانګه اچونه

-د خفاظتی موخو په خاطر د اسعارو خرڅول

# د اسعارو د عرضي او تقاضا خطونه

نورو شتمنیو په څیر د ګراف په مرسته د اسعارو عرضه او تقاضا ښودلی شو . په ګراف کې په عمودي محور د تبادلي نرخ ښودل شوی ، او په افقي محور باندې د اسعارو مقدار ښودل شویدی . د DDخط اسعارو ته تقاضا او د SS خط د اسعارو عرضه څرګندوي . د اسعارو لپاره ټوله تقاضا د توکو او خدمات د وارداتو او بهر ته صادرونکې پانګې د اندازی سره برابریږي . د تبادلی نرخ لوړیدو سره بهرني توکې قیمته کیږي او اسعارو ته تقاضا کمیږي د تبادلی نرخ لوړیدلو سره صادریدونکې توکې په اسعارو ارزانه کیږي .




د گراف له مخې د اسعارو د تقاضا D او د اسعارو د عرضي S خطونو د تقاطع نقطه E د تعادل نقطه ده oq . په بازار کې د توازن رامنځته کوونکي د اسعارو اندازه او Ope توازن رامنځته کوونکي د تبادلي نرخ دی

# د بهرنيو اسعارو د تبادلي بازار دندي

الف ( د خريد توان انتقالول purchasing power transfer

ب (   كريدت چمتو كولprovide credit

ج(   له خطر څخه ساتنه

# د اسعارو بازار کې د معاملاتو ډولونه

ډولونه د اسعارو بازار کې تر سره کیدونکي معاملات په درې اساسي ډولونو جلا کولی شو :

١. د فوری سپارلو عملیات instant delivery ( spot transactions ) operations

٢. راتلونکي معاملات futures operations

٣. مبادلوي معاملاتswap operations

# ١ .د فوری سپارلو عملیات ( spot transactions ) instant delivery operations

هغه معاملات ، دي چې د توافق رامنځته کيدلو سره يو ځای تسليمي صورت نيسي ( معاملاتوکې د اسعارو اخيستل او خرڅول د معاهدي مطابق په يو وخت صورت نيسي . دې سره يوځای د ضروری اسعارو د نشتوالی په صورت کې د منل شوی نرخ له مخي ملی پيسی ادا کېدلی شي . د معاملاتو يو اړخ د اسعارو او بل اړخ يې د ملي پيسو لرونکي اوسي . د معاملي تر سره کيدلو کې د تبادلي نرخ رول لري چې د يو واحد بهرنيو پيسو مقابل کې بايد څومره ملي پيسي ادا شي.

# 2. راتلونکي معاملات Futures operations

راتلونکې یانیسیه معاملات په راتلونکې کې په تاکل شوی نیټه د ملي پیسو په معلوم مقدار سره د بهرنیو پیسو معلوم مقدار د بدلولو معاملات دي ، نیسیه معاملاتو کې له مخکې څخه د یو بانک سره د اسعارو د اخیستلو او پلورلو قرارداد صورت نیسی ، او نرخ ورته هم له مخکې څخه تاکل کیږي د اسعارو او د ملي پیسو تبادله د قرارداد له مخي تاکل شوي نیټه سره صورت نیسي او اعتبار لري راتلونکې نرخ د وخت په نظر کې نیولو سره عام ډول 30 ، 60 اویا ۹۰ ورځو په اساس تاکل کیږي.

# 3. داسعارو تبادله Currency Swaps

د اسعارو په بازار کې تر سره کېدونکو معاملاتو څخه یو ډول یې Currency Swapsدي ، دې معاملاتو کې فوري تسلیمۍ سره بهرنی پلورل شوي اسعار د یوې معلومي مودې وروسته دوباره اخیستل کیږي ، او یا د دې معکوس ، په دې معنی فوري تسلیمۍ سره اخیستل شوي بهرني اسعار تر یوې معلومي مودې وروسته دوباره پلورل کیږي نو ویلی شو چې هغه معاملات چې د تسلیمۍ دوه جلا تاریخونو لپاره ، د یو معلوم مقدار اسعارو پیریدل او پلورل په یو وخت صورت نیسي تبادلوي معاملات Currency Swapsګڼل کیږي . د مثال په توګه له ۹۰ ورځو وروسته د فوري تسلیمۍ له مخې پلورل شوو ۱۰۰۰ دالرو دوباره اخیستلو قراردا کول

# د تبادلې نرخ EXCHANGE RATE

د اسعارو قیمت ته د تبادلي نرځ ویل کیږي . د دتبادلی نرځ د دوه ملي پیسو د واحدونو تر منځ د بدلولو نسبت افاده کوي د تبادلی نرځ یو قیمت دی ، خو د نورو شتمنیو د قیمتونو څخه توپیر لري . د تبادلی په نرځ کې بدلونونه د نړیوالو اړیکو تابع توکو او خدماتو بازار کې په قیمتونو باندی اغیز کوي ، او وروسته په نورو بازارونو اغیز کولو سره په اقتصاد کې په نړیواله کچې د بدلون رامنځته کولو لامل گرزي دتبادلي نرځ د اسعارو د تبادلي په بازار کې رامنځته کیږي .د تبادلي نرخ د بهرنیو پیسو د یو واحد سره د ملي پیسو بدلول ، او یا هم د ملي پیسو په یو واحد د بهرنیو پیسو بدلول افاده کوي که د تبادلي نرخ دبهرنیو پیسو د یو واحد مقابل کې ادا کېدونکو ملي پیسو مفدار په توگه وښودل شي دې ته د مستقیم اقتباس Direct Quotation طریقه ویل کیږي . مثلا $1 = ۷۸ افغانی.

# د بهرنۍ تبادلې اربتراژForeign exchange arbitrage

د قيمت د بدلونونو څخه ګټې اخيستني په موخه د بهرنيو اسعارو ، قيمتي سندونو ، توکو او دتوليد عواملو اخيستل او خرڅول اربيتراژ ګڼل کيږي . اربيتراژ عمده توګه د سوداګريز او مالي شتمنيو ګروپونو کې عملي کيدونکی ميکانيزم دی . د دې فعاليت عمده ځانګړتيا د خطر له قبولولو پرته د قيمتونو له توپير څخه د ګټې تر لاسه کول دي ، په خطر اتکا نه کول د اربيتراژ ځانګړتيا ده ، چې له speculation څخه يې جلا کوي .اربتراژ په دوه ډوله صورت نيسي : يو د محل په اساس اربيتراژ spatial arbitrage دی او بل د تبادلي متقابل نرخ cross exchange rateپه توپير متکي اربيتراژ دی.

## الف. د محل اربيتراژ spatial arbitrage او دوه نقطه ايز اربيتراژ two- point arbitrage

د اسعارو اربيتراژ په يو وخت کې جلا بازارونو کې د يوې بهرنې پولي واحد سره د ملي پيسو د تبادلي نرخ کې له توپير څخه منشا اخلي ، د اسانتيا په موخه د اسعارو د اخيستلو او پلورلو نرخ يو شان په نظر کې نيسو ، او فرض کوو چې د معاملاتو تر سره کول نور کوم لگښت نه لري . د دې شرايطو لاندې د نيويارک او استانبول په بازار کې په يوه وخت د ترکې ليره او ډالرو د تبادلي نرخ په لاندې ډول دی:

| د استانبول بازار | نيويارک بازار |
|---|---|
| 1 $ = 2.10 TL | 1 $ = 2.25 TL |

ښرگنديږي چې په استانبول کې ډالر په ليره باندې ارزانه دي ، او په نيويارکې قيمته دي.

ب ( درې نقطه اين اربيتراژ three – point arbitrage

ځينې وختونه د غير مستقيم تبادلي نرخ باندې متكي توپيرونو څخه كار اخيستل كيږي ، چې دې ته درې نقطه ايز اربيتراژ ويل كيږي. دلته بيا هم د معاملاتو د سر ته رسولو لپاره نور لګښتونه په نظر كې نه نيول كيږي ، او د اخيستلو او پلورلو نرخ يو شان نظر كې نيول كيږي . په يو معلوم وخت كې دا پيسي په داخلي او بهرنيو ټولو بازارونو كې په لاندې توګه تبادله كيږي:

1$= 2TL 1€ = 2 $ 1 € = 2.5TL

د تبادلي نرخونو ته كتلو سره څرګنديږي چې ايرو د ډالرو په پرتله په تركي ليره باندې ارزانه دي